ډاکتر رحمت ربی ځيرک يار ۲۰۱۸/۱۱/۱۸

# پلوراليزم + سيکولريزم = د اسلام پرمختيا
# د دستورالمديني په رڼا کې
(اتمه برخه)

سيکولر(غيرديني) دولت، نه ديني دولت:
*آيا پُل*، سړک، الوتکي...بمب او توغندي ته اسلامي ويلی شو؟

سيکولريزم(دنياتوب/غير-دينيتوب) د عقلي استدلال، نوښتګرۍ، بشردوستی او ولسواکۍ په پَل روان دی. د ۱۹ پیړۍ مهم تولنفکران (اګوست کونت، هربرټ سپينسر، ايمل دورکهايم، کارل مارکس، مکس ويبر او زيګموند فرويد) ټول په دې آند وو چې د صنعتي ټولنې په پيل سره به دين ګام په ګام غړندېږي او سيکولريزم (دُنياتوب/غير - دينيتوب) به يې ځای نيسي. ولولئ

Jonathan Fox, A World Survey of Religion and the State(Cambridge Studies in Social Theory, Religion and Politics). Cambridge University Press, May 2008; ibid, Political
Secularism, Religion, and the State: A Time Series Analysis of Worldwide Data(Cambridge Studies in Social Theory, Religion and Politics). Cambridge University Press, April 2015.

عبداللهي انعيم سياسي نظريه، د بشري حقوقو فلسفه او ټولنپوهنه په دقيق ډول کاروي چې په موضوع په مناسب اوساده ډول رڼا واچوي:« د دې لپاره چې په کلک او ازاد اختيار مسلمان وم...، زه غير-ديني(سيکولر) دولت ته اړتيا لرم. له سيکولر دولت نه مې مطلب دادی چې د ديني اعتقاد په اړه ناپيلي وي، هغسې ناپيلي چې د شريعت د تعميل ادعا يا بهانه نـکوي؛ کاملاً، ځکه چې د شريعت اطاعت نه د دولت د موسسو په زور سره کېدلی شي، نه په جعلي ډول د رسمي مقامونو د تسکين لپاره.» د انعيم ځېرنه په منطق او استدلال ولاړه ده، خو غيرديني(سيکولر)دولت دسپېڅلي قرآن له نظره نه ترسيموي.

برتانوي ټولنپوه طارق مُدود په دې پسې ملا تړلي ده چې ديني فعاليت ته پاتک واچوي او سيکولر پېژاند غښتلی کړي. ځما(ځيرکيار) په آند، دغه ډول دريځ مستبدانه او تنګ نظره دی. عبدالاهي انعيم سياسي نظريه، د بشري حقوقو فلسفه او د ټولنيزو علومو پوهه په دقيق ډول کاروي چې په مناسبه او ساده توګه موضوع روښانه کړي: «د دې لپاره چې کلک او په آزاد انتخاب مسلمان وم...، زه خاورين(سيکولر)دولت ته اړتيا لرم. له سيکولر دولت نه مې مطلب هغه دولت دی چې د ديني اعتقاد له مخې ناپېيلی وي – هغسې دولت چې د شريعت د بهانې او تطبيق ادعا نه کوي. کاملا، ځکه چې د شريعت اطاعت د دولـتي موسسو د وېـرې له لارې يا په تقلبي ډول د مامورينو د تسکين لپاره نشي تحميل کېـدلی.» د انـعيم ځېرنه په منطق او معقوليت ولاړه ده.[د انعيم ځېرنې ماته د ۱۹۹۶ د دسمبر په پای کې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ په مهال، په کابل کې هغه ګوډ اخکزی ملا راپه ياد کړ چې سوټی به يې په لاس کې و او په کابل کې يې په «سوټی ملا» نوم ويستلی و: بې ږيرې سړي او هغه ښځې چې له سر نه د پښو پورې به پټې نه وې، په خپل سوټي به يې وهلې. د طالبانو سياسي استازي مولوي عبدالحکيم مجاهد په نيويارک کې په کرائې اپارتمان کې اړولي وو، په دې اميد چې که ملګري ملتونه يې په رسميت وپيژني. ما ورته له کليفورنيا نه ټلفون وکړ. ورته ومې ويل: ستاسې کار ګوډ ملا خراب کړی دی: تر څوچې هغه په کابل کې ښځې ډبوي، په ملګرو ملتونو کې ستاسې واکمنې رسميت  نشي پيدا کولی! بل داچې برهان الدين رباني لا تر اوسه رسميت نه دی بايللی.]

Abdullahi An-Naim, Islalm and the Secular State: Negotiating the Future of Sharia. Harvard University Press, March 2010

مسلمانان باید د هغه نظام یا دولت څېړنه وکړي چې په رڼه مدینه کې د محمّد(ص) په فکري ابتکار او اقدام په ۶۲۲م(ا هجري) کې رامینځته شوی و او د هرډول هېوادوالو(مسلمان او غیر مسلمان) حقوق او مسولیتونه پکې خوندي شوي وو. مسلمانان باید د خپل پیغامبر له لیکلي اساسي قانون(دستورالمدینه) نــه په خپلو اساسي قوانینو کې زده کړه وکړي. مفکرین اوس داسې نظام ته اړتیا لر چې د درې ګونو قواو په وېش ، د ولس له خوا د ټاکل شوي مشر د دورې په محدودیت، په قانونیت، او په سیکولریزم ولاړ وي. مـسلمانان بایـد د خپلې زماني انسانان شـي او د سوډاني – برتانوي عبدالوهاب الافندي له پوهې نه زده کړه وکړي چې له الازهــر پوهنتون نه فارغ شوی او د مسلم سیکولریزم د پلار لقب یې ګټلی دی. دغه شان، مسلمانان د شلمې پېړۍ د الازهر شیخ علی عبدالرازق له (اسلام او دسیاسي قدرت اساساتو) نه زده کړې ته اړتیالري! دوی دواړه، په مدینه کې د محّمد(ص) په تجربه رڼاڅوي چې له تاریخي اړتیا نه راوتلې وه، نه له سیاسي تېورۍ نه! له دې بحث نه سړی داسې هم پــوهېدلی شي چې اسلام د حکومت کوم ځانګړی شکل نـلـري.

په یو استدلالي بحث کې داسې ادعا وشوه چې: (۱) که څوک غواړي چې واقعاً دیني وي، باید په سیکولر دولت کې ژوند وکړي؛(۲) څرګند اسلام مطلوب او ګټور دی، خو دولتي اسلام عموماً قهرجن دی. په هیند کې «دیوبند» او «جماعت اسلامي» سیکولریزم غواړي، ځکه که په یو هېواد کې یو اورپکی (افراطي) دین برلاستیا ولري، د نورو دینونو غړي او سیکولران به د عذاب مېلمانه کړي. په پاکستان کې د ۲۰۱۴زییز د پای پورې په تېر لسو کالونو کې نـږدې سل زره انسانان د دیني او طایفوي شخړو په اوږدو کې وژل شوي وو. څېـړونکي په دې باور دي چې دین اوغیر دین دې شخصي موضوع وي نــه دولتي؛ یعنې دولت دې د کوم ځانګړي دین ساتونکی او د کوم بل دین غلیم نه وي. د بودیـزم مشــر دلای لاما د ټولو دینونو د درناوي لپاره د سیکولریـزم دفاع کوي. د ۲۰۱۷ په اکتوبر کې د سعودي عربستان د پادشاه ۳۱کلن ناستن(ولیعهد) شهزاده محّمد بن سـلمان په ډاګه کړه چې د «افراطي مفکورو» په ځای به پاسته(معتدل) سیاست ته لار هواروي: «موږ هغه څه ته راستـنېږوچې پخوا وو- د معتدل اسلام هـېواد ته چې ټولو دینونو او نړۍ ته به پرانیستی وي.» «موږ به ډېـر زر د افـراطګرۍ جرړې وباسو...موږ د اسلام د پستو/معتدلو ښودنو او اصولو استازي یو.»په راتلونکي کال کې به مېـرمنې پخپله د موټر چلونې اجازه ولــري.

We are returning to what we were before-a country of moderate Islam that is open to all religions and to the world." "We will eradicate the remnants of extremism very soon…We represent the Yuval teachings and principles of Islam." Deutsche Welle (25 October 2017) & CNN.

په راتلونکو پېړیو کې د ټکنا لوجۍ او د ژوند د ژور بـدلون لپاره ولولئ د اسرائیلي تاریخپوه پوهاند یُوال نواه هـراري لاندې کتاب:

Yuval Noah Harari, Homo Deus*: A Brief History of Tomorrow. Vintage Digital (September 2016).

*) Man of God د خدای ســړی/انسـان

داچې نړۍ په ګړنــدي ډول ګڼ کلتوره کېږي، دولتونه دېـته اړکېږي چې د دین له اړخه ناپېیلي وي او غیردیني(سیکولـر) وګـړو ته هغومره په درنه سترګه وکسي لکه د دیــني خلکو درناوی چې کوي. په دغه ډول هېوادونو کې دین یوه شخصي موضوع وي، نه دولـتـي. غیر-دینـولۍ ته د سیکولر انسانانو دین ویل کېږي. په غیر-دینولۍ کې د نورو خلکو دیني عـقیدې یا عـقیدو ته په درناوي کتل کېـــږي.

هرڅومره چې دا خاورینه نـړۍ د وجدان، تحمل او مساواتو په ستنو ودرېږي، هغومره انسانان یو بل ته نـږدې کېږي او تعـصبونه کډوالـېږي. چارپوهان عموماً داسې اټکلوي: هر څومره چې ټولنه د نویتوب په لوري روانه وي، هغومره د دینونو اغیز ټـیټـېږي او سوکه خپل مشروعیت بایلي. هو، شخصي معنویت په دغه عملیه کې نه راځي. ټولنپوه مَکس ویبر، فیلسوف او قتصاد پوه کارل مارکس، ساپوه زیګموند فروید، بشردوست فعالګر پوهاند پاول کورتخ(۱۹۲۵تر۲۰۰۸) او ساینـتـیسټ ریچارډ داوکینس(۱۹۴۱تر اوس) هم د دین په وړاندې دریځ نیولی دی. داوکینس ټول دینونه یو شان بد نه ګڼي؛ خو اوس یې اسلام په نړۍ کې«خورا شریر» دین ګڼلی دی. خو

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

امریکایی مفکر کریس هیچینس دغه قضاوت تعدیلوي څکه «ټول مسلمانان»په شرارت کې نه دي اخته، بلکې «انفرادي مسلمانان د اسلام له لاسه له بل هرچا نه زيات کړېږي.»[ښایی مطلب يې هغه اسلام وي چې بن لادن او آيزس يې چلوي].

پخوا ديــن له زېږېدني تــر مړيــني زور لاره. خو نن سيکولر واکمني د قانون او تعليم په چارو کې واکمنه ده. د نن ورځــې انسان خپل کار، عقيده او د ژوند طرز پخپله ټاکي. موډرنــيزم(نوښتګرى) دين دېته اړکړئ دى چې استدلال اوتحمل ته غوږ ونيسي. که پخـوا د مالونو لپاره بازار شتون لاره، اوس يې د دين لپاره هم لري. خو ګڼ کلتورتيا د دين مارکېټ لرځولى دى. «د تمدنونو ټکر» په دينونو نه دي ولاړ، بلکې د خرافاتو او نوښتګرى په ټکر ولاړ دى. ولولئ:

“The Economist,” November 3, 2007.

اينټرنيټ هم د معلوماتو انحصار دړې وړې کــړى دى. خلک په اسانی سره په ګړندي ډول کولی شي چې بېلابېلو معلوماتي چينو ته ورننوځي، د خپلي خوښي موضوع وڅېړي او په خپلواک ډول قضاوت ته ورسېــږي. د ګڼ کلتورتوب او اِينټرنيټ له لارې بېځايه تاوتريخوالی کمېــږي او په دې ډول هېــڅ ځانګړې ډله د دې وس نـلري چې اخلاقي برلاستيا خپل ملکيت وګڼي. د ډېرو معلوماتو لپاره ولولئ:

Vexen Crabtree, “Multi-culturalism, Globalization and Religion” (2012) humanreligions.info [Nov. 1, 2017]; ibid, “Science and Religion” (2016) humanreligions.info [1 Nov 2017].

د ګڼ کلتورتوب او اِينټرنيټ له لارې بې ځايه غليمی کمېږي او په دې ډول هېڅ ځانګړې ډله د دې وس نلري چ اخلاقي برلاستيا خپل خپل ملکيت وګڼي. آلبرت آينشتاين (۱۹۲۹) ويلي وو: «علمي څېړنه د خلکو د تشويق له لارې (چې فکر وکړي او اوضاع د علت اومعلول له مخې ووېني) کولی شي چې خرافات کم کړي.» هر څومره چې عِـلم پرمختګ کوي ، هغومره د دين زور راټيـټوي، او په دې ډول عامه اعـتقاد ټکنی کېږي. سړی ويلی شي چې د علم تاريخ د هغو مبارزو تاريخ دى چې د کلکو معتـقـدينو په مقابل کې رامينځته شوى وي. په غير له پېغلې ملالې يوسفزى، ډېره سخته ده چې د نوبل د جايزې په سلګونو ګټونکو کې کوم ديني څوک پيدا کړای شو!

هرڅومره چې د چا تعليم او شخصي عايدات زيات وي، هغومره يې دين کمزورى وي. دغه تناسب په زاړه يونان کې هم د پوليبيوس (۲۰۰تر ۱۱۸ ق.م.) له خوا ليدل شوى و. په پرمختګ سره دين يوې شخصي موضوع ته راټيټېږي. لسم پاپ پايوس (۱۹۰۷) ويـلي وو چې موډرنيزم د ټـولـو بېدينـيو تـرکيب دى: پرمختګ «لکه تبرګی جرړه غـوڅـوي، نـه ځـانګه.»

It “lays axe to the root, not the branch.”

په دين باندې د موډرنيزم(نوښـتګرى) د اغېـز لپاره ولولئ:

Lester R. Kurtz, Gods in the Global Village. The Oxford Handbook of the Sociology of Religion, 2011; The World Religions in Sociological Perspective. Pine Forge Press, 2011.

امريکايي غــيرديني (سيکولـر) پوهانـد فيل څوکرمن يــو انسان دوست شخصيت دى او هېڅ ډول تبعيض او د خلکو ديني سپکاوى نشي زغملی. دى نه په دوزخ عـقيده لري، نه په جنت؛ خو په نړى کـې د مسلمانانو کړاونه يې ربـړوي. د جوماتـونو تخريب، په مغـازو کې مسلمانـانـو تـه وچولی ترېوَل
او د لسمشردانالډ ټـرمپ غضبـنـاکي ويناګاني اغيزمني راشي درشي ته پاټک اچوي. په دغسي زهرجن ټـولنيز- سياسي چاپيريال کې چې ځينې خلک د اسلام له تاريخ او د مسلمانانو له عـقيدې نه خبر نه وي، غـتې تېـروتنې رامينځته کېـږي .
پـه ميانمر کې مسلمــانان د څـومره تـاوتـريخوالي او کړاوونو سره لاس پـه ګريوان دي. په اشغال شوي فلسطيـن کې د مسلمانــانـو کـرغېړن او له ظـلم نه ډک ژوند ته وکسئ. پـه نړى کې د ښځـو لپاره د لس (۱۰) خــورا بدو هـېوادونو پـه جـملـه کې، نـهـه (۹) يـي اسـلامـي هېـوادونـه دي. پوهاند څوکرمن وايـي چې نه پـه دوزخ عقيـده لـري، نـه پـه جنت. خو د مسلمانانو کړاو يې کړوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

Prof. Dr. Phil Zuckerman, Defending Muslims, Critiquing Islam: The Delimma of a Contemporary Secular Humanist. (Psychologytoday.com ( June 9, 2017) [1 November 2017].

پیو تحقیـقي مرکز* (۲۰۱۴م) وايي چې: د امریکـې نږدې ٪۲۳ خلک کوم دین ته ځان نه منسوبـوي .

*) Pew Research Center

په تېـرو شپېـته کالونو کې ، په یورپ کې دین په غټه کچه مخ په لږېدلو کې دی. په ۲۷ اروپايي هېوادونو کې په اوسط ډول یواځې نیمايي خلک يې په خدای عقیده لري، او ٪۲۵،۴ يې په ډاګه وايي چې دین نـلــري. له یو هېواد نه بل ته توپیر شته. هغه کسان چې له ۵۵ کالونو يې عُمرجګ وي او هغه کسان چې تعلیم يې له ۱۵ کلنۍ نه زیات په مخ نه وي تللی، دیـن ته چمتو دي.

Vexen Crabtree, Secularization Theory: Will Modern Society Reject Religion? 2008. (humanrelgions.info) [20 November 2017].

د ټولنپوه ډین ر. هوګ* د راپورله مخـې، عموماً په لویدیزو هـېـوادونو کې په ۳۰۰ کالونو کې د عیسوي روحانیونو/ مولویانو مقام مخ په زوږي دی(پروټېسټانټ او کاتولیکان) او د هغـوی نفوذ او صلاحیت هـم په تدریج سره مخ په ځوړي دی. هوګ وايي چې په آسیا کې هم بودیست مولویان د نفـوذ په بحـران اخته دي. جـــاپان هم د سیکولرایزېشن (دُنیوي کېدلو) په پَـل روان دی .

*) Dean R. Hoge

ورځني عبادتونه په زراعتي سیموکې زیات وي، خو په صنعتي سیمو کې کم. هـرڅومره چې علم پرمختګ کوي، هغومره د غیردُنیوي عـقیدې او مرموزاتو اغیزکمېـږي. فـردیت ګرایـــي، شخصـي عقیدې او خلوت(شخصـي ژوند) د ټولنیز ژوند په کچه زیات زور میندلی دی. ګـڼ کلتورتیا زغـم ته لار هـواره کړې ده او دیني عــدم تحمل ته یې پاټک اچــولـی دی. د دین دغې مخ په ځوړې وضعې دینـوالان متردد کړي دي چې کوم دین ته مخ ورواړوي. دغه وضعه په خپل وار سره دینـوالانو ته د دې ورشو سمبالولی شي چې خپل دین پرېـږدي. عـلـم، عقل او پوهـه د دیـن د زوال مورچلونه دي. د بشــر د حـقـوقـو تفکر هـم د ځینو دیـني عادتونو او تمـریـنونـو په وړانــدې کلک دریځ نـیـولی دی. تبعیض او نـژاد پالنه رټـي اوجنسي مساوات تقویه کوي. کمونیزم هـم د دین سره ټکر لاره.

د ګڼ کلتورتیا او اِنــټرنېټ له لارې بې ځایه غلیمۍ کمېـږي او په دې ډول هـېـڅ ځانګړې ډله د دې وس نلري چې اخلاقي/معنوي برلاسـتیا خپل ملکیت وګڼي. البَرت آینشتاین(۱۹۲۹م) ویلي دي چې: «علمي څېـړنه د خلکو د تشویق له لارې(چې فکروکړي او اوضاع د علت او معلول له مخې ووینې) کولی شي چې خرافات کم کړي.»
هرڅومره چې علم(ساینس) پرمختګ کوي، هغــومره دغه پرمختګ د خدای زور راټیـټوي، او په دې ډول عامه اعـتـقـاد کمـزوری کېـږي. سړی ویلی شي چې د عِلم تاریخ د هغو مبارزو تاریخ دی چې د مصممو دیني معتـقدیـنو په مقابل کې رامینـځته شوی وي. ډېـره سخته ده چې د نوبل د جایزې په سلګونو ګټونـکو ساینس پوهانو کې به کوم یـودیني څوک پیدا کړای شو.
هرڅومره چې د چا تعلیم او شخصـي عایدات زیات وي، هـغومره په دین کې کمزوری وي. دغه تناسب په زاړه یونان کې هـم د پولیـبیوس(۲۰۰تر ۱۱۸ق.م.) له خوا مشاهده شوی و. په پرمختګ سره دین یوې شخصـي موضوع ته راټیـټېـږي! لـــسم پـاپ (۱۹۰۷زییز) ویـلي وو چې موډرنـیزم (نوښـتګري) د ټـولو بېـدیـنیـو تـرکیب دی.

It “lays axe to the root, not the branch.”

په دین باندې د موډرنیزم د اغیز لپاره ولولئ:

Lester R. Kurtz, Gods in the Global Village. The World Religions in Sociological Perspective. SAGE Publications. 3rd ed., Dec. 2011; Robert W. Hefner, Religion and Modernity Worldwide. The Oxford Handbook of the Sociology of Religion, Febua 2011.

د علم پرمختګ هم دین کمزوری کوي. په فزیک کې د نوبل جایزې وړونکي سټیون وَیـنبېرګ په خـپله وینا کې ووېل : «نـړۍ دېـته اړتیا لـري چې د دیـني عـقیدې له اوږده بــد خــوب نـه راویښه شي.» ولولئ:

Skeptical Inquirer (March /April 2007).

د سیکولریزم او ټکنالوجۍ په مټ، انسان په ډېره کوچنۍ نړۍ کې اوسېــږي چې په خپل وارسره زیـات تفاهم او متقابل احترام ته لار هواروي او مخ په زیاتېـدونکي خلاقیت یې د مشکلاتو په حل کې مرسته کولی شي. دینونه په نړۍ کې ډېـرې اوږدې تمدني موسسې دي. خوتقریباً په وروستیو درې سوه(۳۰۰) کالونو کې نوي خاورین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

(غیردیني) قدرتونه رامینځته شول چې زړو موسسو(دینونو) یې د چترۍ لاستی نیولی دی: لکه کپیټلیزم، مارکسیزم، ملي دولت، پوهـه، ګرندي ارتباطات (کمیونیکېشن)، لیبرالیزم، او سیکولریزم. هـرڅومره چې اقتصادي او کلتوري نړیوال کېدل پرمختګ کوي، هغومره یې اغیز په دیني ژوند کې محسوسېږي. سرې اټکلولی شي چې نړۍ به ځان یو وخت د «معنـوي تخیل»(مورَل اِیـمَجنېشن) په لـوري سیخوي په کـوم کې بـه چې انسانـان د خـپلـو نـوو او خـلاقو امکانـونـو د مخلیـد په برکت هـمـمهال اخلاقـي او بریالي وي! راځـئ چې د تاوتـریـخـوالـي پـه ځـای، مـوږهریـو ځان پـه مـعـنـوي تخـیل سـمبال کـړو او یـو بـل تـه د انسان وروړ او خـور پـه سترګه وګـسـو او معنوي تخیل خپله چغربه(شعار) وګـڼو!

**د لس زره کلـن تـاریـخ په تله کېد دیني او دنیوي جنګونو د تلفاتو په اړه د قضاوت تېروتـنې!**

کله نا کله اورو چې دیني خلک ذاتـا د علِـم (ساینس) سره تـکـرلـري؟ یا داچې عـقـیده د اسـتدلال سره اړخ نـه لـګـوي؟ ښایي دغه ډول دریځونه د بنسټپالو(افراطیـانو) له خوا ښودل کېږي. تـرټولو غټـه تېروتـنـه دا ده چې دین او هـسک ښتن د ډېرو جګـړو چینې دي؟! لکه صلیبي جګړې، د عقایدو تفـتیش (اِینـکویـزیـشن)، شمالي آیرلنډ، مینځنی ختیز، د ۲۰۰۱ د سپتمبر په ۱۱نېټه د امریکي په نیویارک او پلازمېنه واشنګټن کې د(۹۱۱) بریدونه او.

خو په «جنګونو دایرتالمعـارف»* کې د تېرو لس زرو کالونو په جګړو ( له ۸۰۰۰ قبل المیلاد نه تر ۲۰۰۳ میلادي) رڼا اچول شوې ده او د هـرې جـګـړې د همـغـه مـهال ټولـنیز او سیاسـي ډګون(متن) تـه پـکي پاملـرنه شوې ده.

*) Chares Phillips and Alan Axelrod, Encyclopedia of Wars- 3Volume Set. Publisher: Facts on File (December 2004), 1502 pages in 3 vlolumes.

له ۱۷۶۳ جنګونو لـه جُملي نه ، یـواځـې ۱۲۳ یـې دینـي وو. یعني له ۷ سلنو(۷٪) لـږې جګړې دیـنـي وې، او له دوه سـلـنو (۲٪) لـږ خلـک پـکې وژل شـوي وو. اټکل داسـې دی چې پـه صلیبـي جـګـړو کـې یو(۱) تر درې(۳) میلیون خلک وژل شـوي وو، او ښـایـي درې زره(۳۰۰۰) به د عـقایـدو په تـفتیش(اِینکویزیشن) کې وژل شوي وو.

خو نـږدې ۳۵ میـلیـون عـسکـر او ملـکي خلـک یـواځې پـه لـومړۍ نړیـوالـه جـګـړه (۱۹۱۴ تـر ۱۹۱۸م ) کې وژل شـوي وو. د پخوانیو زمانـو جګړې د ځمـکو پـه نیـولـو، د سرحدونـو پـه کـنـټـرول، د تـجـارتـي لارو پـه امـنیت، او په داخـلي امـنـیت راچـاپـېـرې وې. پـخـوانـو فـاتـحـانـو (مـصـریـانـو، بـابـیـلـیـونـیـانـو، فـارسـیـانـو، یـونـانـیـانـو او رومـنـیـانـو) د مفـتوحـه ملـتونـو دینونـه پـه ارت لاس منلـي وو.

د مینځـنـیو پـېـړیـو او رنـسـاس جـګـړې د ثـروت او قدرت لـپاره وې، نـه د دیـن لـپاره. د مغـلـو جـګـړه چـې د نـږدې دېـرش (۳۰) میـلیـون انسانـو کـکـرۍ یـې وخـوړلې، کـومه دیـنـي صـبغـه یـې نـلـرلـه. نوي جنګونه په ناپلیوني جګړو، د امریکي په انقلاب، د فرانسـي په انقلاب، د امریکي په داخلي جګړه، په لومړۍ نړیوالـه جګړه، د روسـیې پـه انـقـلاب، پـه دوهمـه نړیوالـه جګړه، د کوریـا او ویـتـنام پـه جګړو راڅـرګـنـېدل، نه پـه دینـي عـلـتـونـو .

په شلمه پېړۍ کې نږدې ۱۶۰ میلیون غیر نظـامي خلـک د نـسل وژنـې (جینوسایډ) خوراک ګرځېـدلي وو، او نږدې سل (۱۰۰) میلیون یې په کمیـونیستي دولتونو(روسیه او چین) کې وژل شـوي وو. ادعـا کېږي چې کمیونیزم «دولـتي دین» و ځـکه چې د مسـتبد لیډر ویـنـا او قانـون د «مقـدس کـتـاب» مقام لاره. په دوهمه عـمومي جګړه کـې له شپېته (۶۰) مـیلیون ډېر خلک وژل شوي وو چـې په ۱۹۴۰میلادي کـې د نړیوال نفوس (نږدې ۲،۳ بیلیون) ۳٪ کېدل .

پـه ۳ ټوکونوکـي د پاس۱۵۰۲ مخـیز کتاب د لـنډیز لپاره ولولئ:

Rabbi Alan Lurie, “Is Relegion the Cause of Wars?” huffingtonpost.com (June 10, 2012 updated) [November 21, 2017].

«قران د الله حدیث دی»

الله(ج) په خپل کتاب (قرآن مجید) کې د موسیقي هېڅ ډول ممانعت نه دی کړی

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

H. Abdul Wahid Shaikh, “Music not forbidden in Islam,” (linkedin.com October 22, 2014 [November 13, 2017]

په قوسونو کې شمېرې په قرآن مجید کې سوره او آیه ښئ. الله (ج) د قانون سازی یواځینی چینه ده (۶: ۱۱۴) او محٌمد(ص) هغه څه نشي منع کولي چې الله (ج) نه دي منع کړي (۶۶:۱) او(۳۳: ۳۷). د هسک څښتن له یاده نه ده وتلې چې ټنګټکور(موسیقي) او سندرې منع کړي او بل چا ته منتظر شي چې دغه کار سر ته ورسوي. هغه څه چې په قرآن مجید کې منع شوي دي، ټنګ ټکور او سندرې پکې نه راځي (۳۹:۲۸).

الله(ج) د لغاتونو غټه زېرمه لري او هېڅ موضوع ترې نشي پاتې کېدلی یا هېرېدلی. د هسک څښتن هغه څوک نه خوښېږي چې یو داسې څه منع کړي چې د الله په کتاب کې نه وي منع شوی. هسک څښتن خپل مخلوق ته وایي چې د هغه (الله) حدیث (قرآن) تعقیب کړئ، نه کوم بل څه. هسک څښتن ایمان والو ته وایي چې یواځې خورا غوره حدیث (قرآن) تعقیب کړئ. د اسلام پېغامبر محّمد هم دغسې وکړل.

ګالیلیو(۱۵۶۴تر ۱۶۴۲م: ایټالوي فزیکپوه اوستوری پېژندونکي) ویلي وو چې:

«خدای کائنات (یونیورس) د ریاضیاتو (ماتیماتیکس) په ژبه لیکلی وو.» د کائناتو تېزسترګي لیدونکي پوهېږي چې د ټول عالَم/کائناتو په هر کونج کې ټنګ ټکور(موسیقي) خپاره کړې وي: زموږ انسانو د وینا په څېر، زموږ چغې، خندا، او سندرې بل څه نه دي، بلکې ټنګټکور(موسیقي) تمثیلوي. مرغۍ ، څاروي، ونې، سمندرونه، سیلۍ، او وربېزې ټول د موسیقي سره خلق شوي دي. مو سیقي په هر شي کې په موږ راچاپېره ده. دا به ډېر ساده توب وي چې د یو الله له خوا خلقه شوې موسیقي دې پخپله د الله له خوا منع شي!

هغه څوک چې موسیقي حرامه ګڼي، د الله په اړه دروغ وایي او هغه څه ته پاټک اچوي چې پخپله خدای هېڅکله نه وو منع کړي. موږ د موسیقي سره زېږو(ژاړو) او د ژړا سره له نړۍ سترګې پټوو. ډېره پرمختللې موسیقي د انسان د وینا ژبه ده. څوک چې په موسیقي بندېز لګوي، په خپل اسلام نه پوهېږي. د منع کولو قوانین د الله له خوا راځي، نه د مخلوق (انسان) له خوا. الله په خپل بشپړ قرآن کې په موسیقي بندېز نه دی لګولی.

هغه څوک چې قرآن ته د اسلام د بشپړ کتاب په سترګه نه ګسي، د شیطان په لار تللي دي او هڅه کوي چې د خپل هدف لپاره په غیر له قرآن نه نورو چینو ته پناه وېسي. هغوی په دې نه پوهېږي چې ممانعتي قوانین یواځې د هسک څښتن له خوا راځي، نه د بل چا له خوا. یعنې د پیغامبر محّمد(ص) په شمول، هېڅوک هغه څه نشي منع کولی څه چې هسک الله نه دي منع کړي!

یاَ یّهاالنبی لِمَ تُحرّمُ ما اَحلّ الله لک تبتغيِ مَرضَاتَ اَزواجِک واللهُ غفور رحیمُ(۶۶:۱) «ای پېغامبره ولې هغه څه منع کوې چې الله ستا لپاره میسر کړې ده. د دې لپاره چې خپلې مېرمنې خوښې کړې. الله ډېر بخښونکی ، زړه سواندی دی.»- ژباړه مې له یوې برېښنایزې انګرېزي ژباړې کړې ده. ځیرکیار. لیکوال ( عبد الوحید شیخ) په خپله پا س ذکر شوې لیکنه کې وایي چې د ټنګټکور(موسیقي) او سندرو د بندېز په اړه په سپېڅلي قرآن کې څه نشته، ځکه چې الله(ج) په خپل کتاب کې نه دي منع کړي .

نور بیا

Dr. rer. pol. Rahmat Rabi Zirakyar, Califorina, USA
zirakyar1234@yahoo.com


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ